د یوناما خبری کنفرانس

د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی


د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama-afg.org


# مطبوعاتی کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

دان تول، په سهيلي آسيا کي د یونیسف سیمه ییز رئیس;

کاترین بینګوی، په افغانستان کی د یونیسف مشره;

نظیف الله سالارزی، یوناما د ویاند د دفترڅخه

*کابل، د جنوری ۲۲، ۲۰۰۸ کال*

**یوناما:** اغلیو او ښاغلیو، سلام، ماسپښین مو نیکمرغه او د نن ورځې رسنیز کنفرانس ته ښه راغلاست. زه د یوناما د ویاندوي له دفتر څخه نظیف الله سالارزی یم. نن ورځ یونیسف (د نړی ماشومان) تر عنوان لاندې خپل نړیوال رپوټ خپروي. له موږ سره نن د سهیلی اسیا لپاره د یونیسف سیمه ییز رئیس ښاغلی ډان تول او د افغانستان لپاره د یونیسف استازي میرمن کاترین حضور لري. لومړی به موږ یو لنډ رپوټ تاسو ته وړاندی کړو او بیا به ستاسی پوښتنو ته ځوابونه ووایو. لطفاً په یاد ولرئ چي نوموړی رپوټ خپریدل د کابل په وخت ترپنځه بجو او دیرش دقیقو پوري ممنوع دی.

## د ژمی د ناورین په اړه د افغانستان په لویدیز کی تازه معلومات

په لویدیځه سیمه کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستي په باب تازه معلومات په دا تیرو څو اوونیو کې په داسي سختي واورې او سړې هواد ټول افغانستان او خاص ډول لویدیځه سیمه نیولي ده، چي تمه یي نه کیده. د دولت د ناورین د کنترول د ولایتي تیمونو په مشرتابه د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو په ګډون بیلا بیلو فعالینو، انجوګانو، د ولایتی بیار رغوني تیمونه (پي آر تي) او ایساف د بیړني تیمونه په ګډه کار کوي چي اغیزمن شویو ټولنو ته د بشري مرستي رسولو لومړیتوبونه وټاکي. تر نن ورځې پوري په لویدیځ افغانستان کي چاراواکو رپوټ ورکړی دی، چي هلته په عمومي ډول په هرات، بادغیس او غور ولایتونو کي ۲۰۵ کسان مړه شوی او تر ۴۲،۰۰۰ زیات څاروي له منځه تللی.

ددغي ژمنی ناورین په وړاندي د غبرګون په توګه، د نړیوال خوراکي پروګرام (WFP) له خوا په ۷۲۶ ټنه خواړه لا د مخه د هرات او بادغیس اغیزمن شویو خلکو ته استول شوی دی. او په هرات، فراه او بادغیس ولایتونو کي د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو له خوا ۱۰۰۰ کمپلي، ۵۵۰۰ جاکتونه، ۲۵۰۰ تر پالونه، ۲۰۰۰ پلاستکي فرشونه او بیړني کیټونه ورکړل شول.

موږ له ټولو فعالینو سره په ګډه کار کولو ته دوام ورکوو، څو ډاډمن شو چي د هغو خلکو لپاره د مرستي رسیدل جریان لري چي تر ټولو زیات اړ دي. تاسي کولای شئ د اړخ خوا ته په میز باندي د نوروې مرستي په باب تفصیلات له هغو د مرستي له توکیو سره چي (WFP)، یونیسف، د نړیوال روغتیایي سازمان، یو ان ایچ ار سی، له خوا په دا څلورو ولایتونو کي د ژمي څخه پخوا زیرمه کړي وو، ولولئ.

**په افغانستان د یونیسف مشره:** تر هر څه د مخه له تاسي ښځو، نارینه وو او د رسنیو څخه مننه کوم. ملګري ملتونه له تاسي سره په دغي موقع کی چی د ۲۰۰۸ کال لپاره د نړی د ماشومانو د حالت په باب رپوټ خپریږی، شریک دي. موږ خوشحاله یو، چي له خپله ځانه سره د سهیلي آسیا سیمه ییز رئیس ښاغلی دان تول لرو چي نوموړی له ټاکل کیدو راهیسی د لومړی ځل لپاره دلته راغلی دی . د سیمه ییز رئیس په توګه استوګن ځای یي په کتمندو کي دی او دا د هغوی لومړی رسمی سفر د سیمه ییز ریس په توګه افغانستان ته دی مننه

**په سهیلي اسیا کي د یونیسف سیمه ییز رئیس:** له تاسو ټولو څخه مننه کوم چي دلته راغلي یاست. لکه چي کاترین وویل، د افغانستان ته د سهیلي اسیا د سیمه ییز رئیس په توګه زما لومړی سفر دی، خو زه له ۱۹۹۹

راهیس دلته تګ راتګ لرم. دا زما څلورم سفر دی. زما ستر هدف دا دی چې له همکارانو سره لیده کاته وکړم. پرون مې ولسمشر کرزی ولید، د پوهنې، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزیر سره مې هم ولید. سبا به موږ د پنجشیر درې ته سفر وکړو چې ووینو په واقعیت کې څه روان دي، او هغه څه بیا په کار واچوو چې ۱۸ میاشتې د مخه په کندهار او زابل ولایتونو کې لیدلي وو.

همدارنګه په دې وتوانیدم چې له یو شمیر کلیدي دونرانو سره وګورم. دا مهمه ده چې د افغانستان او د دې هیواد د ماشومانو لپاره مرسته تر لاسه شي. نن سهار مې د سرې میاشتې ټولنې له رئیسې سره ولیدل چې د یونیسف یوه کلیدی همکاره موسسه او په ټول هیواد کې د هغوي د ستر شمیر رضاکارانو په نظر کې نیولو سره، د افغانستان د ماشومانو یو بنسټیز همکار دی.

ما ډیره ښه موقع درلوده چې په دې پوه شم چې یونیسف په افغانستان کې څه کوي، چې یو څه یې به دی هیواد کې پرمختګ دی او په خاص ډول یو څه هم د راتلونکی کال لپاره ننګونه ده. زه همدارنګه نن دلته یم او ستاسی له حضور څخه خوښ یم چې د ۲۰۰۸ کال د نړۍ د ماشومانو د حالت رپوټ خپرول پیل کړم چې هغه د یونیسف له خوا په نړیواله کچه د ماشومانو د حالت رپوټ دی چې ایا ماشومانو ته څه پیښیږي. هر کال دغه رپوټ په یوه موضوع باندې غور کوي او سږ کال موضوع د ماشوم د ژوند پاینښت او بقا، د ماشوم روغتیا او په نړۍ کې څه شی د ماشومانو د پاینښت سبب کیږي، ده. دغه رپوټ د ماشومانو لپاره د مهم پرمختګ په بام خبرې کوي. سږ کال دا یو مثبت رپوټ دی چې وایې، له ۱۹۸۰ راهیسې کله چې موږ د ماشومانو د پاینښت په باب خبرې پیل کړې، په دې توانیدلي یو چې د ماشوم د مړینې کچه ۳۵ سلینه را کمه کړو.

په ۱۹۸۰ کې هر ورځ ۴۰،۰۰۰ ماشومان مړه کیدل چې مانا یې دا وه، چې هر کال ۱۵ میلیونه ماشومان له هغو لاملونو څخه مړه کیدل چې مخنیوی یې کیدای شو. نن ورځ هره ورځ تر ۲۷،۰۰۰ لږ شمیر ماشومان هره ورځ مري یعنی چې هر کال تر ۱۰ میلیونو کم شمیر ماشومان په کال کې مري. نو په دې توګه موږ خورا ستر پرمختګ کړی دی چې ډاډمن اوسو ماشومان په واقعی توګه پاینښت کوي. موږ د نړۍ په هره سیمه کې پرمختګ لیدلی دی. په سهیلی اسیا کې، تر ټولو اغیزناک پرمختګ په بوتان، مالدیپ، نیپال، سریلانکا او بنګلادیش کې شوي دی. له ۱۹۹۰ راهیسي هر یوه دغو هیوادونو د ماشوم مړینې کچه تر ۵۰ سیلنې ډیره را کمه کړی ده.

دا یو باور نه کیدونکی پرمختګ دی. نوموړی رپوټ په باندې هم خبرې کوي چې موږ دا کار څرنګه وکړ. نن ورځ موږ پوهیږو چې هغه څه ته چې موږ اړتیا لرو، عبارت له یو یوځایي او جامع میتودونو څخه دی. موږ پوهیږو چې ټولنې لومړنی خلک دی چې د کورنیو تر څنګ د ماشومانو پالنه کوي او هغه طریقی چې د ماشومانو په روغتیا کې ښه والی راولي، باید چې ټولنې په پام کې ولري، هغوي وتوانوي، او هغه وسیلې ټولنو ته ورکړی چې هغوی د خپلو ماشومانو د روزنې لپاره ورته اړتیا لري، څو ډاډ ورکړی چې ماشومان روغمن دی، د دې ډاډ ورکړي چې ښځې روغمنې دي، او کولای شي روغمن ماشومان وزیږوي چې په دې توګه میندې او نوی زوکړی ماشومان پاییږي.

دغه رپوټ همدارنګه د سیاسی ارادې په هکله هم خبري لري. موږ پوهیږو چې کولای شو درست ځوابونه ولرو. موږ کولای شو مناسبه اندازه پیسې ولرو، خو که چیرې موږ هغسې مشرتابه ونه لرو چې د ماشومانو لپاره د نړی بدلوولو کې ژمن وي، موږ به دا ډول بدلون و نه وینو. موږ پوهیږو چې نړی بدله شوې ده.

په ۱۹۹۶ کې کله چې به له یو دوو ولسمشرانو او یو شمری وزیرانو سره خبرې کیدې، یو یې هم په دې نه و خبر چې په هیواد کې یې څو ماشومان مړه کیدل. اوس دا حالت بدل شوی دی، اوس د افغانستان، هندوستان، روسیې، د متحده ایالاتو او برازیل ولسمشر کولای شي درته ووایي چې هر کال څومره ماشومان مري او د هغوي د روغتیایي سیستم وضعه څه شان ده، او دا د ماشوم د پایښت په پوهیدلو کې مخه په وړاندې خورا ستر پرمختګ دی. او دا یو ژمنتوب دی چې ډاډه اولسو چې ټول ماشومان پاییږي.

لکه ما چې وویل، ټولو هیوادونو پرمختګ کړی دی، او اوس زه افغانستان ته راځم، افغانستان په خپل تاریخ کې ډیر ستونزمن حالت تیر کړی دی او واقعاً په عصری نړۍ کې، چې د شوک جګړې دوره یې تیره کړې ده او اوس د بیا رغونې او دوامداره ستونزو دوره تیروي، خو بیا هم افغانستان د ماشوم د پایښت کولو په برخه کې خورا ډیر پرمختګ کړی دی.
وروستني ارقام چې موږ یې لرو او په دې رپوټ کې نشته، ځکه چې دا نوي ارقام د دې ښکارندوي دی چې د ماشومانو د مړیني اندازه د ۲۰۰۱ کال را په دې خوا په سلو کې ۲۵ راپریوتي ده. دا هم یوه بې ساري پیښه ده، دا هغه څه دي چې توقع او هیله یې د موجودو ستونزو سره چې موږ یې دلته لرو نه شوه کیدلای، خو دا د سیاسي ارادې څرګندونه کوي او هغه د پاملرنې تمرکز دی چې په محلي ډول د منابعو د متمرکز کولو څخه سرچینه اخلي چې په کې روغتیایي خدمتونو ته رسیدنه د اوبو برابروول او زده کړې شاملې دي.

دغه رپوټ همدارنګه په افغانستان کې د هغو هلو ځلو یادونه کوي چې په کلیوالو او ښاري سیمو کې د اوبو د برابرولو په برخه کې ترسره کیږي. موږ په دې اړوند زیات پرمختګ په تیره بیا په ښاري سیمو کې لیدلی دي، چیرته چې وګړي همدا اوس پاکو اوبو ته رسیدنه لري. په دغه رپوټ کې د ګوزڼ او پولیو کمپاینونو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده چې همدا اوس روان دي او هغه چې تیر کال په لاره اچول شوي وو. افغانستان نږدې په سلو کې ۹۰ ماشومان د ګوزڼ د واکسیناسیون او ویټامین (ای) تر پوښښ لاندې راوستي دی. موږ هیله لرو چې سږ کال هم دغه ډول پروګرام ولرو. یو داسې کمپاین چې دوه ورځې ترمخه پیل شو او موږ هیله لرو چې ټولې جګړې پای ته ورسوو څو چې موږ وکړای شو د ماشومانو پر پایښت باندې تمرکر ولرو او د ګوزڼ مخنیوی وکړو.

دغه رپوټ همدارنګه جوتوي چې افغانستان باید اوږد واټن ووهي. افغانستان د میندو د مړینې په برخه کې دوهم او د ماشومانو د مړینې له امله په نړیواله کچه دریم ځای کې دی. کله چې ما د ولسمشر کرزی او د روغتیا د وزیر سره ولیدل نو هغوي ددې ستونزې څخه خبر دي او له دې څخه هم اګاه دي چې موږ ټول

ستاسو د رسنیو له استازو سره یو ځای باید خپلې هلې ځلې دوه برابره کړو څو د دې باور تر لاسه کړو چې ډیر ماشومان و ژغورل شي او ژوند وکړي.

افغانستان خپلې احصائې ښې کړی دي، خو دا ډیر اوږده لاره په مخکې لري چې پرې ولاړ شي. ددې لپاره چې تاسو ته یوه مفکوره در کړم، نن ورځ په افغانستان کې هره ورځ تر ۶۰۰ پورې ماشومان د وقایې وړ لاملونو له امله مړه کیږي. یوازې پنځه میلیونه کورنی د ټولو نفوسو له جملې څخه پاکو او صحي اوبو ته رسیدنه لري. یوازې ۲،۶ میلیونه وګړي د هیواد په کچه مصونه حفظ الصحي ته اړتیا لري.

په جوته توګه موږ د افغانستان څیره تر هغه پورې نه شو بدلولای څو چې و نه کړای شو د ماشومانو د بقا او ژوند احصائیو ته بدلون ور نه کړو. دا به زموږ او ستاسو د ټولو هلو ځلو ته د حکومت د رهبری طرز او د ټولو همکارانو لکه یونیسف، د روغتیا نړیوال سازمان، د سره صلیب د ټولنې او نورو هلو ځلو او کوښښ ته اړتیا ولري څو چې دغه احصایې تغیر شي.

یونیسف دلته دی، یونیسف دلته د څو لسیزو څخه دی او دلته به وي. تیر کال یونیسف ۷۷ میلیونه ډالر په افغانستان کې مصرف کړي دي. د دغو پیسو زیاته برخه د روغتیا، زده کړو، تغذیې، د اوبو د برابرولو او حفظ الصحي په ډګرونو کې لګیدلي دي. څرګند لومړیتوب په دې کې دی چې د ماشومانو د بقا او د ژوند پایښت کچه لوړه شي او د ماشومانو پر وده او پالنه باندې تمرکز وشي.

په راتلونکی کال کې موږ هیله لرو چې نږدې ۸۰ میلیون ډالره پیسې تدارک او مصرفې کړو چې موږ په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان لپاره بنستیزه ونده ۷ میلیونو ډالره زیاته کړې ده. کله چې ما پرون د ولسمشر کرزي سره خبرې وکړې او موږ د دې رپوټ په اړه غږیدلو نو موږ دې توافق ته ورسیدو چې افغانستان د ماشومانو د ژغورنې او بقا لپاره دومره ورو پر مخ نه شي تللای،، باید په چټکۍ سره پر مخ ولاړ شو، افغانستان باید په دې ډګر کې ګړندي ګامونه پورته کړي. موږ باید په افغانستان کې بدلون راوړو او دا کار موږ کولای شو. موږ په تیرو لسو کلونو کې بدلون لیدلی دی. موږ باید دغه بدلون د حکومت، د نړیوالو همکارانو، د ملي او نړیوالو غیر دولتي موسسو، د سره صلیب د ټولنې او هر هغه چا سره چې غواړي زموږ سره یو ځای د افغاني ماشومانو د ژغورنې لپاره یو ځای شي، دا چې هغوي د تیرو او غلط ګټې اخیستنې څخه په امن کې دي دا چې مینده په مصونه توګه زیږون ولري او دا چې مینده په خپله د دغه پړاو وروسته ښه روغتیایي حالت کې وي. ستاسې څخه ډیره مننه، دا د نړیوالو ماشومانو په اړه رپوټ ؤ. اوس زه په خوښۍ سره ستاسې پوښتنې اورم.

**پوښتنې او ځوابونه**

**د پژواک خبري اژانس:** که چیرې تاسو موږ ته دا شمیرې را څرګندې کړئ چې همدا اوس څومره ماشومان کار کوي؟ او د هغو ماشومانو شمیره چې ور څخه غلطه ګټه پورته کیږي؟

**په افغانستان د یونیسف مشره:** لکه چې تاسو پوهیږئ، ارقام او شمیرې یوه ستونزه ده. موږ خوښ یو چې سږ کال کیډلای شي د احصاییې را ټولول پیل شي او کله چې موږ شمیرې ولرو نو موږ به د هغو شمیرو په رڼا کې په ښه حالت کې و اوسو. د بده مرغه دا به وخت واخلي ځو چې دغه شمیرې تر لاسه کړو. د ملګرو ملتونو د نفوسو د پانګې (UNFPA) همکاران په دې اړوند کار کوي. موږ به په ۲۰۱۰ کې پوره ارقام ولرو، خو د دې لپاره هیله من یو چې راتلونکي کال کې به لومړني شمیرې تر لاسه کړو.

کله چې تاسو په کابل کې ګرځئ، نو کیدلای شي خواوشا د سړک په سر کارکوونکي ماشومان وګورئ. هغه ارقام او شمیرې چې د کوڅې په سر د کار کوونکو په اړوند موږ لرو د ۳۷۰۰۰ په خواوشا کې ماشومان دي. دا ډیر پورته شمیره ده. او موږ پوهیږو چې دلته نور ډیر ماشومان د نورو ولایتونو په مرکزونو کې دي او همدارنګه موږ پوهیږو چې دغه ډول ماشومان په ولسوالیو کې هم شته. موږ همدارنګه د هغې تجربې له مخې چې د نورو هیوادونو په اړوند یې لرو چې دا یوازې هغه ماشومان نه دي، چې د کورونو د باندې کار کوي. موږ همدارنګه پوهیږو چې ماشومان په کورونو کې هم د کارګر په توګه کار کوي، خو موږ په کره توګه نه پوهیږو چې دغه شمیره په افغانستان کې څومره ده. خو که چیرې موږ د نورو هیوادو د تجربو په اړوند فکر کوو نو کیدلای شي ووایو چې دا دلته هم پیښیږي.

د نفوسو لپاره د ملګرو ملتونو د پانګې د همکارانو سره مو کار کړی دی څو چې د احصائیو لپاره یو ماډل وړاندې کړو چې په افغانستان کې د کارګرو ماشومانو په اړه معلومات ولرو، چې څومره یې د ماشوم د کار په ډګر کې دي. تاسو کیدلای شي ډیر ماشومان وګورئ چې په دکانونو کې کار کوي، ډیر وخت هغوي وایي چې هغوي په شاګردی اخته دي خو په واقعیت کې موږ پوهیږو چې دا د ماشوم د کار سره نږدې والی لري.
په نورو مسئلو کې د تحفظ او ساتنې مسئله ده چې د ماشومانو د قاچاق سره یو ځای ډیره اندیښنه رامنځته کوي. موږ پوهیږو چې د پولې څخه د تیریدو قاچاق د یوې ولسوالۍ څخه بلې ته د قاچاق ستونزه شته. دلته پر ماشومانو باندې د تیری مسئله شته، نو څکه موږ دې ته اړیو چې د حالت تحلیل ترسره کړو، او موږ هیله لرو چې د احصائې په بشپړتیا سره موږ لا نور زیات ارقام تر لاسه کړو چې هغه به ډیر ریښتوني وي، ددې په پرتله چې په دې وخت کې موږ ښه اټکلونه کاروو.
**د تمدن تلویزیون:** همدا اوس موږ د هغو ماشومانو او ښځو شمیر لرو چې د یخې هوا له امله د هیواد په بیلا بیلو برخو کې مړه کیږي. تاسو د هغوي لپاره څه کړي دي او آیا تاسو د دغو خلکو لپاره په راتلونکی کې څه پلانونه لرئ؟
**په افغانستان د یونیسف مشره:** زما همکار تاسو ته بیړنی مرستی په اړه چې د ملګرو ملتونو د ټولو موسسوله خوا خلکوته ورکړی شوي دی معلومات تر لاسه کړو او په ځانګړی ډول د دغه پلان په چوکاټ کې موږ څه کړي دي، څو چې د دغه پیښو په اړوند د ځواب ورکولو پروسه ځواکمنه او ګړندی شي. موږ یو لړ فعالیتونه لرو. تر ټولو وړاندې موږ د کورنیو لپاره د مرستې لرو، چې په هغو کې کمپلې او د کورنیو لپاره کالي، لوښې، د پخلنځې سامان او هرکارې (تغارې) شاملې دي، په تیره بیا د هغو کورنیو لپاره چې بیځایه شوي دي.

همدارنګه د روغتیا وزارت سره کار کوو چې دغه کورنی چې زیانمني شوي دي باید طبي او روغتیايي اسانتیاوو ته لاس رسی ولري. د تغذیي فعالیتونه د خوارو د نړیوال سازمان سره یو ځای پر مخ ځي، دا نه یوازې د خوراکي توکو برابرول دی بلکه همدارنګه د دې باور تر لاسه کول دی چې هغه ماشومان چې د کم خوراکی سره مخ دي او په سخته توګه د خوار ځواکی سره مخ دي وکړای شي چې ملاتړ او مرسته ورسره وشي. باید وويل شي، چې موږ دلته د ملګرو ملتونو د ټول ټیم سره یو ګډ پلان لرو چې د ۱اشاریه ۲ میلیونو ډالرو پورې یوازې د یونیسف له خوا مصرفوو څو چې دغه مرستې وکړو او ستونزو ته ځواب ووایو. د مرستو ټولې پیسې ۷۸ میلیونه ډالره کیږي.

**بی بی سی:** زه پوهیږم چې تاسې دغه ریوټ هر کال برابره وې، پوښتنه دا ده چې د دې ریوټ په برابرولو کې له کومې معلوماتي سرچینې او میتودولوژي/طریقې څخه ګټه پورته کوئ؟

**په سهیلي اسیا کې د یونیسف سیمه ییز رئیس:** په دې ریوټ کې معلومات د ملګرو ملتونو رسمي معلومات دي، نو لکه چې ما وويل که تاسې د دې ریوټ شا وګورئ هلته به یو زیات شمیر جدولونه شته، په دې جدولونو کې په ترتیب سره یو شمیر هیوادونه او شاخصونه تر سترګو کیږي، کوم شاخصونه چې موږ یې کاروو د ملګرو ملتونو له رسمي ارقامو څخه دي. دغه معلومات دواړه د یونیسف او په همدې ډول د نفوسو پر بنسټ د روغتیايي سرویګانو ځیني لاس ته راغلي. هغه سرویګاني چې زیات شمیر شاخصونه لري یعنی ډول ډول احصائیوي تخنیکونه او شمیرنې لري . دغه معلومات باید په داخلي توګه سره تطابق ولري، نو یوازې په ملي کچه معلومات اړین نه دي، تاسې به د مثال په توګه په افغانستان کې وګورئ، چې د ښځو د مړینې رقم د نړیوال روغتیايي سازمان او یونیسف ارقام په دې هکله یو دی د بل سره پرتله او برابر شوي. موږ له ډول ډول معلوماتو څخه کار اخلو او داسې سره برابروو کوم چې په ټول هیواد کې تر ټولو معتبر رقم وښي. نو په دې ډول له ډول ډول سرچینو څخه ګډ معلومات چې بیا یوه شمیرنه څرګندوي او بیا په داخلي توګه د یو کمیټې له خوا تصویب کیږي.

**ایرنا:** تاسو داسې وویل چې د میندو د مړینو پر بنسټ افغانستان دوهمه درجه کې او د کوچنیانو د مړینې پر بنسټ دریمه درجه کې راځي، مهرباني وکړئ معلومات راکړئ چې تاسو د هغو مړینو د کموالی په اړوند په کال ۲۰۰۸ څه پلانونه لري ترڅو چې دا کچه راټیټه کړي؟ آیا تاسې به د میندو او کوچنیانو د مړینو د راکمولو په مقصد د ښوونځیو، مدرسو، پوهنتونو او مسجدونو څخه استفاده به وکړئ؟

**په سهیلي اسیا کې د یونیسف سیمه ییز رئیس:** دغه ریوټ هغه څه رابرسیره کوي چې موږ پوهیږو چې کار کوي. موږ په دې پوهیږو چې د کوچنیانو د ناروغیو په مقابل کې د هغوي مصونیت او ساتنه ده، او دا په افغانستان کې د دې امله مهم دی چې د واکسین کولو په معموله توګه تر اوسه دې ته اړتیا لري چې زیات شي. هغه کوم شي چې موږ پوهیږو توپیر رامنځ ته کوي هغه دا ده چې د ټولنو او میندو سره کار وشي او په همدې ډول د دغو ټولنو لپاره روغتیايي خدمتونو پیاوړي شي او ټولنو ته ورسیږي، چې دغه تر اوسه په افغانستان کې یوه ستونزه ده. نو ځکه یونیسف به په دې اړوند د روغتیا وزارت سره مرسته وکړي. د هغه څه په اړه چې ما یې یادونه وکړه یو شمیر موضوعات دي او تاسې د هغو د حل لپاره ښه اراده لرئ. ولسمشر هغه ته د یو

لومړیتوب په توګه ګوري، د روغتیا وزیر په دې پوهیږي، چې دغه موضوع یو لومړیتوب دی حتی چې د مالی وزیر د دې ډول فعالیتونو لپاره بودجه برابروي. ښاغلي میرمن کاترین به زما خبرې تکمیلې کړي.

**په افغانستان د یونیسف مشره:** موږ په دې هم پوهیږو چې یو شمیر ناروغۍ شته چې کیدلای شي له هغوي څخه مخنیوی وشي، دا هغه ناروغي دي چې په افغانستان او د نړۍ په یو شمیر نورو برخو کې د مړینې سبب ګرځي، موږ پوهیږو چې د اسهالاتو ناروغۍ او په همدې ډول موږ پوهیږو چې د تنفسی سیستم ناروغی کیدای شي د شری په څیر د واکسینونو د تطبیق په پایله کې ودرول شي، موږ په دې پوهیږو چې پولیو یوه ستونزه ده او په دې هم پوهیږو چې په څه ډول د هغه مخنیو وکړو. نو زموږ لپاره موضوع دا ده چې په څه ډول روغتیایي سیستم تنظیم کړو، ترڅو دغه سیستم وتوانیږي چې دې ستونزو ته ځواب و وایې. بل موضوع دا ده که په کورنیو کې چارې ښې شي دې ناروغیو سره مقابله کیدای شي، نو مخکې له دې نه چې ماشوم ناروغ شي کورنی کولای شي د ناروغی د مخنیوی لپاره څه ترسره کړي.

کله چې کوچنیان ناروغ شي کورنی په دې باید پوه شي، د دوی او ټولنو ونډه او همدارنګه د ملایانو او ښوونکو ونډه هم مهمه ده. که د کورنیو له خوا روغتیایي چارې ښې شي دا کار به د ناروغیو څخه مخنیوی وکړي، او کله چې ناروغی رامنځ ته کیږي، کورنی په دې پوهیږي چې په څه ډول او په څومره چټکۍ د دې ناروغی د مخنیوي چارې ولټوي او هم د هغه سیستم چې موږ ور نه یاده وکړه کولای شي دې ستونزې ته ځواب ووایي. په واقعیت کې مخنیوی او ناروغیو ته ځواب ورکول موږ سره یو ځای کړی، ترڅو سیستم اغیزمن شي. د ټولنې په کچه باید کار وشي.

بله موضوع تغذي ده، د ټولنو په کچه هغه څه چې موږ پوهیږو او ریوټ هم د یو ګډ ځواب په توګه اشاره کوي دا ده، هغه څه چې تاسې د ټولنو په کچه پوهیږئ او دا چې څه وکړئ چې سیستم ځواب ویلو ته چمتو وي اوکورنی هم په دې پوه وي چې د ټولنو او کورنیو په کچه څه کولای شي مهمه خبره ده او په دې لړ کې ټولنې او کورنی په دې هم پوه شي چې کوم کارونه دوي نه شي ترسره کولای. دا هغه څه دي چې موږ یې له تاسو سره یو ځای د هغه د ترسره کولو اراده لرو. دغه موضوع تاسو نارینو او ښځینو ته کوم چې په رسنیو کې کار کوي غواړي چې د تلویزیون او راډیوګانو له لارې موږ سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړئ، ترڅو اساسي پیغامونه ټولنو او کورنیو ته ورسیږي.

**افغانستان ټایمز:** دوه میلیونه کوچنیان په افغانستان کې ښوونې او روزنې ته لاس رسي نه لري. آیا تاسې کولای شئ چې په ډاګه کړئ چې دغه کوچنیان د هیواد په کومو برخو کې دي؟

**په افغانستان کی د یونیسف مشره:** راځئ چې دوو شیانو ته نظر واچوو. موږ په دې خوشحالي وښودله چې په کال ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کې یو میلیون کوچنیان بیرته ښوونځیو ته لاړل او له دې امله موږ ډیر خوشحال یو. د ۲۰۰۷ کال په لومړیو کې چې د ښوونیز کال پیل دی شپږ (۶) میلیونه کوچنیان ښوونځیو ته تلل. دا داسې

یو شی دی چې موږ باید له هغه نه قدردانی او لمانځنه وکړو، خو سره له دې هم نږدې ۲ میلیونه کوچنیان ښوونځیو ته تللي نه شي. کله چې موږ د هیواد سهیل او په ختیځ کې یو شمیر سیمو ته ګورو، له بده مرغه د ناامنیو له امله ښووني او روزني ته لاس رسي کمه ده. د دې ستونزو د یو شمیر زیاتو برخو لامل د ناامنیو سره تړاو لري، په دې سیمو کې به خلک د ښووني په ارزښت باندې پوه وي، خو یو شمیر دلیلونه لکه د ښوونځیو لیروالی او یو شمیر نور لاملونه ددې باعث کیږي، چې د نوموړو سیمو کوچنیان ښوونځیو ته نه شي تللای. او په یو شمیر مواردو کې په دې نه پوهیږو چې ښوونځیو ته د هلکانو شاملول څومره مهمه خبره ده.

موږ د کوچنیانو پر کار باندې خبرې وکړي او په معموله توګه موږ وایو چې د دې علت فقر او بیوزلي ده، خو دا د کار یو دور دی په دې ډول چې میندې او پلارونه په دې خاطر کار ته لیږي، څو د خپلو کورنیو لپاره عاید تر لاسه کړي، نو له دې امله ښوونځیو ته نه ځي. نو په دې ډول که دوي ښوونځیو ته نه ځي، نه شي کولاي خپل بالقوه وړتیاوو/استعدادونو ته وده ورکړي او په پایله کې په اقتصادي لحاظ د دوي ژوند ثبات پیدا کړي، نو په دې ډول موږ له یو نسل څخه بل نسل ته فقر او بیوزلي انتقاله وو، او موږ دغو کوچنیانو ته د دې فرصت نه ورکوو چې ښوونځیو ته لاړ شي او خپل موقف ته کله چې دوی وده کوي، لوړتیا ورکړي.

له ټولو څخه مننه